د لوړو زده کړو وزارت
کابل پوهنتون

د اروا پوهنې او روزنيزو علومو پوهنځی
د اداري او مديريت څانګه

# درسي پلان

Ketabton.com

چمتوکوونکی : حسن خان درمل
لارښوود استاد: پوهنيار شکيبا هلال

ښوونيز کال 1390 دوهم سمستر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

**د کلنی یا اوږدمهاله درسی پلان بیلګه :**

د ښوونکي نوم : زلمی مضمون: ساینس او روغتیا

ښوونځی: رحمن بابا وخت: له 2 حمل تر 30 عقرب

ټولګی: پنځم (ج) کال : 1390 هـ ش

| څپرکي | د موضوعاتو عنوانونه | د ساعتونو شمیر | د تدریس کولو نیټه |
|---|---|---|---|
| لومړی | د ژوندیو اجسامو خاصیتونه | 6 | له 4 حمل تر 18 حمل |
| دوهم | د انسان د بدن جوړښت | 11 | له 20 حمل تر 10 ثور |
| دریم | ماده او د هغې خاصیتونه | 7 | له 11 ثور تر 25 ثور |
| څلورم | اقلیم ( اوبه او هوا ) | 6 | له 29 ثور تر 8 جوزا |
| پنځم | لمریز نظام | 9 | له 12 جوزا تر 29 جوزا |
| شپږم | غږ ( صوت ) | 6 | له 2 سرطان تر 11 سرطان |
| اووم | مقناطیس او د هغه خاصیتونه | 6 | له 12 سرطان تر 29 سرطان |
| اتم | بریښنا ( برق ) | 11 | له 3 سنبلی تر 26 سنبلي |
| نهم | مکروبونه او پرازیتونه | 14 | له 27 سنبلي تر 30 میزان |
| لسم | مخدره توکي | 7 | له 1 عقرب تر 15 عقرب |

**هدفونه :**

1: زده کوونکي باید حرکت یو د ژوندیو اجسامو د خاصیتونو په څیر وپیژني.

2: زده کوونکي باید د انسان د بدن په جوړښت باندي پوه شي.

3: زده کوونکي باید ماده وپیژني.

4: زده کوونکي باید د اوبو او هوا ( اقلیم ) په مفهوم باندي پوه شي.

5: زده کوونکي وکولای شي تر څو د یوه ساده سیستم اجزاوي سره بیل کړي، ( توپیر یي وکړي ).

6: زده کوونکي باید غږ وپیژني چې غږ څه ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

7: زده کوونکي باید د مقناطیس په اهمیت او ارزښت باندي پوه شي.

8: زده کوونکي باید د بریښنا یا برق په ډولونو باندي وپوهیږي.

9: زده کوونکي باید له مکروبونو څخه د مخنیوي په ډول باندي پوه شي ( څه ډول د مکروبونو مخنیوی وکړي ).

10: زده کوونکي د مخدره توکیو په تاوانونو باندي پوه شي تر څو له هغو څخه ډډه وکړي.

| مفاهیم | اصطلاحات |
|---|---|
| غلیان ، نمو ، اقلیم ، نظام ، قمر ، مقناطیس ، مخدره توکي ، معتاد | ژوندی موجود ، غذا ، تنفس ، حساسیت ، ستون فقرات ، عضلات ، فزیکي خواص ، اسکلیټ ، جمجمه ، پښتۍ ، کیمیاوي خواص ، کثافت ، د تراکم عملیه ، د تبخیر عملیه ، ستوري ، کهکشان ، موج ، الیکټرون. |

| درسي مواد | ښوونیز فعالیتونه | ارزونه |
|---|---|---|
| د پنځم ټولګي د ساینس او روغتیا درسي کتاب ، مجلي ، تصویرونه ، قلم او کتابچه ، تخته پاک ، تباشیر ، ښوونیز فلمونه ، د لابراتوار مواد. | لکچر ، مباحثه ، له لابراتواري طریقي څخه کار اخیستل ، نمایشي طریقه کارول ، د مشاهدي طریقه کارول ، د پوښتني او ځواب طریقه کارول او همدارنګه د ګروپي کار ترسره کول . | کورنۍ دنده ، په بیلابیلو وختونو کي د آزموینو اخیستل ، د زده کوونکو په واسطه د موضوعاتو خلاصه کول ، د موضوع په اړه د زده کوونکو اطلاعات ، د زده کوونکو په واسطه د موضوعاتو وړاندي کول . |

**نوټ :** په دې پلان کي پنځه درسي ساعتونه زیات په پام کي نیول شوي دي تر څو د کومي ستونزي یا حادثي په رامنځته کیدو سره ( هغه که د ښوونکي وي او یا په عمومي سطح وي ) د زده کوونکو درسونه نیمګړي پاتي نه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د فصلوار یا منځمهاله پلان بیلګه :**

د ښوونکي نوم : زلمی
ښوونځی : رحمن بابا
ټولګی : پنځم (ج)

مضمون : ساینس او روغتیا
موضوع : اتم څپرکی بریښنا ( برق )
وخت : له 3 سنبلي تر 26 سنبلي
کال : 1390

| |
|---|
| **عمومي هدفونه:**<br><br>1: زده کوونکي باید د بریښنا په ارزښت باندي وپوهیږي.<br>2: زده کوونکي باید ساکنه بریښنا وپیژني.<br>3: زده کوونکي باید د جاري بریښنا د تولید په طریقه باندي پوه شي.<br>4: زده کوونکي باید له جاري بریښنا څخه د ګټي اخیستلو په طریقه باندي پوه شي.<br>5: زده کوونکي باید د بریښنا مسلسله او موازي دوره وپیژني.<br>6: زده کوونکي باید په ورځني ژوند کي له بریښنا څخه په ګټي اخیستلو باندي وپوهیږي.<br>7: زده کوونکي باید د بریښنا عادي او عایق اجسام وپیژني.<br>8: زده کوونکي باید له عادي او عایقو اجسامو څخه په ورځني ژوند کي په ګټي اخیستلو باندي وپوهیږي .<br>9: زده کوونکي باید دبریښنا په خطرونو او له هغوی څخه د مخنیوي په لارو چارو باندي وپوهیږي.<br>10: زده کوونکي باید په بریښنایي دوره کي د فیوز په اهمیت باندي وپوهیږي.<br>11: زده کوونکي باید د فیوز په کارولو باندي وپوهیږي چې په کوم ځاي کي او د څه لپاره کاریږي. |
| **درسي مواد:**<br><br>د پنځم ټولګي د ساینس او روغتیا درسي کتاب ، تخته پاک ، تباشیر ، ټولګي ته د ځینو شیانو د تصویرونو راوړل لکه ؛ ګروپ ، فیوز میټر او نور ... |
| **ښوونیز فعالیتونه:**<br><br>مباحثه ، نمایشي میتود ، د مشاهدې میتود ، د زده کوونکي عملي فعالیتونه ، پوښتني او ځوابونه (سوال او ځواب ). |
| **ارزونه:**<br><br>پوښتنو ته د ځوابونو ورکول ، د کورنی دندي لیکل ، د ټولګي په مباحثاتو او عملي کارونو کي ګډون کول. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ورځنۍ یا لنډمهاله پلان بیلګه :**

د ښوونکي نوم: زلمی | مضمون: ساینس او روغتیا
ښوونځی: رحمن بابا | ساعت: دریم
ټولګی: پنځم (ج) | نیټه : 27 / 06 / 1390
موضوع: مکروبونه | وخت : 45 دقیقي

**هدفونه :**

1: زده کوونکي باید مکروبونه وپیژني.
2: زده کوونکي باید ګټور او ضررناک مکروبونه وپیژني او په ورځني ژوند باندي یې تأثیر درک کړي.
3: زده کوونکي باید له مضرو مکروبونو څخه د مخنیوي په لارو چارو باندي وپوهیږي.

| وخت | د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکي فعالیتونه | درسي مواد |
|---|---|---|---|
| 2 دقیقي | احوال پوښتنه او د حاضري اخیستل | ټول زده کوونکي ورکوي | د حاضري کتاب |
| 5 دقیقي | د تیر درس په اړه پوښتني کول تر څو وکولای شي له نوي درس سره ورته ارتباط ورکړي. | د تیرو موضوعاتو په اړه معلومات ورکوي. | درسي کتاب |
| 20 دقیقي | ښوونکي نوی درس پیل کوي او د ضررناکو او ګټورو مکروبونو په اړه په تفصیل سره معلومات وړاندي کوي. | زده کوونکي په ډیر دقت سره هغه اوري او کوم بحثونه چې په دې اړه ترسره کیږي په هغو کي ګډون کوي | درسي کتاب ، تصویرونه او مجلې |
| 10 دقیقي | ښوونکی د مکروسکوپ او نورو لابراتواري وسایلو په وسیله زده کوونکو ته مکروبونه وربښیي او په هغوی باندي بحث او خبري کوي. | زده کوونکي لومړی غوږ نیسي او وروسته خپلي پوښتني کوي. | لابراتواري مواد ، تصویرونه ، کتاب او مجلې |
| 5 دقیقي | ښوونکي د اړوندي موضوع په اړه پوښتني کوي او د ټول درس خلاصه له یوه زده کوونکي څخه پوښتي. | زده کوونکي ورته ځواب ورکوي ، یو نفر درس لنډیز کوي خو نور هم په کي برخه اخلي. | کتاب ، تخته ، تباشیر ، تصویرونه ، لابراتواري مواد. |
| 3 دقیقي | ښوونکي د راتلوونکي درس لپاره کورنی دنده ورکوي او زده کوونکو ته لارښوونه کوي. | زده کوونکي د کورنی دندی په اړه توضیحات له ښوونکي څخه غواړي او یاددښت کوي | د پنځم ټولګي د ساینس او روغتیا درسي کتاب |

**څیړنه ( تحلیل ): د نن ورځي درس په خورا ښه ډول ترسره شو ځکه چې په درس کي عملاً زده کوونکي سهیم وو او هریوه په ډیره مینه او علاقه سره خپل درس زده کړ ځکه درس عملي بڼه درلوده ، وخت هم تر ډیره پوره وو ، ددې لپاره چې هر څه مي ترسره کړي وای نو لابراتواري وسایلو راسره ترسره تر ډیره هدف ته په رسیدو کي مرسته وکړه.**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**